مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ۲۰۲۶/۰۴/۰۷

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پاليسي

(شپږمه برخه)



(جنرال **اميرعبدالله خان نيازی** او دهندي پوځ قوماندان جنرال **جګجيت سينګ اروړا** د سولې تړون د لاسليک په حال کې)

## پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانی(۳)

### جنرال يحيَی خان[1] او د بنګال جګړه

لکه چې وايي:**«تنګ آمد، به جنګ آمد»** د جنرال يحيی خان لهخوا د بنګاليانو بې‌ساري ځپل، د بنګله‌دېش د آزادی جګړه رامنځته کړه چې له امله يې د هند او پاکستان ترمنځ دريېمه جګړه پيل شوه. پاکستان پر هند د **(چنګېز خان)** په نوم جګړه کې، د هند پر ۱۱ هوايي ډګرونو هوايي بريدونه وکړل چې دا بريدونه د جګړې مهمه موخه وه چې لږ زيان يې واړاوه او د څو ساعتونو لپاره د هند هوايي عمليات وځنډيدل، د پاکستان دغو بريدونو هند اړ کړ، د بنګالي پاځونوالو تر څنګ مخامخ د پاکستان پر وړاندي ودريږي.[2] د جګړې په ۱۳مه ورځ چې د ډسمبر ۱۶مه نېټه وه، هندي ځواکونو په ختيځ پاکستان کې بشپړه بريا ترلاسه کړه او په لوديځ پاکستان کې يې هم ښه پرمختګ کړی ؤ، **د پاکستان د پنجاب شکرګر، سیالکوټ، لاهور، سېند او د کشمير د کنټرول لاين په اوږدو کې يې هم سيمې لاندې کړي وې.**

[1]: د جنرال يحيی خان د شخصيت په هکله د ليکني وروستی پاڼي په لمن ليک کې ولولئ.

[2]:https://www.goodreads.com/book/show/7972713-flight-of-the-falcon
http://content.time.com/time/magazine/article/0,9171,905593,00.html



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ



Pakistan Army's Pants removing ceremony during 1971 surrender

په بنګال کې چې د بنګالیانو او هندي ځواکونو لخوا پاکستاني ځاکونه کلابند (محاصره) شوي وو او خپل جګړهییز مورال يې له لاسه ورکړی ؤ، هندي ځواکونو موندلې وه چې دا د پاکستانيو ځواکونو د تسلیمۍ وخت دی، هغه وو چې د ډسمبر په ۱۶مه نېټه، د بنګال د ډاکې په ښار کې د پاکستاني پوځ قوماندان، جنرال **(امیر عبدالله خان نیازی)** او د هندي پوځ قوماندان جنرال **(جګجیت سینګ اروړا)** تر منځ د سولې

په نوم تړون (چې په حقیقت کې د تسلیمۍ تړون ؤ) لاسلیک شو چې د پاکستان لپاره يو تاريخي شرموونکی تړون بلل کيږي.

په دې جګړه کې شاوخوا ۹۳۰۰۰ پاکستاني پوځیان د هند پوځ ته تسلیم شول چې په دې ډله کې د پاکستان د وسلهوال پوځ، له ۷۹۶۷۶ تر ۸۱۰۰۰ پورې عسکري يونيفورم لرونکي پوځیان او پاکستان دولت ته وفادار ځينې بنګالي عسکر شامل وو، پاتې ۱۰۳۲۴ تر ۱۲۵۰۰ پورې ملکي اسیران چې د پوځیانو د کورنیو غړي او همکاران وو.[3]



جنرال نیازی، له خپلو ۹۳ زره پاکستاني پوځیان سره يو ځای د هند د پوځ قوماندان جنرال (جګجیت سینګ اروړا) پر وړاندې په خورا بې‌عزتۍ سره تسلیم شو چې **له تسلیمۍ وروسته بنګالي پاځونوالو او عامو قهرېدلو خلکو له پاکستاني پوځیانو څخه پوځي پتلونونه واېستل چې دا د پتلون ايستلو پېښه د پاکستاني پوځ لپاره د يو تاريخي پېغور په توګه کارول کيږي.**[4]

کله چې په بنګال کې د پاکستاني پوځیانو د تسلیمېدو او د ختيځ پاکستان له لاسه تللو خبر په خبري رسنیو کې خپور شو نو په ټول هېواد کې د خلکو ناڅاپي او پراخ غبرګونونه او لاریونونه لارو کوڅو ته ووتل، داسې آوازې خپرې شوې چې د ټیټرتبه پوځي افسرانو له خوا د ولسمشر يحيی خان پر وړاندې پوځي کودتا پلان شوې ده. ولسمشر جنرال يحيی خان چې په پاکستان کې د ګډوډيو په مخنيوي کې ماتې‌خوړلې وه، **د ۱۹۷۱ز. کال د ډسمبر په ۲۰مه نېټه، د پي‌پي‌پي ګوند مشر، ذوالفقار علي بوټو ته د حکومت واک وسپاره.** «د يحيی خان له استعفا څو ساعته وروسته، ولسمشر بوټو د پاکستان د لوی څارنوالی [ځانګړي محکمې]

هغه حکم لغوه کړ چې د شيخ مجيب الرحمن د اعدام په اړه صادر شوی ؤ او هغه يې له بنده آزاد کړ، اجازه يې ورکړه چې لندن ته ولاړ شي. ولسمشر بوټو د يحيی خان د کورني نظر بندۍ امر هم وکړ.»

د جګړې په پایله کې نه يوازې ختيځ پاکستان (بنګال) د پاکستانیانو له لاسه ووت، بلکې **«هندي ځواکونو، شاوخوا ۱۵۰۰۰ مربع کیلومتره (۵۸۰۰ مربع میله) خاوره، په لوېديځ پاکستان، (اوسني پاکستان) کې هم لاندې کړې وه»**[5] پاکستانيو ځواکونو ونه شول کولی هندي ځواکونه له خپلې خاورې وشړي، «دغه نيول شوې سيمې د **(سیملا تړون)** له

[3]: https://www.academia.edu/37347829/Linking_poverty_and_environment_as_causes_of_conflict_a_case_study_of_Pakistan

[4]: په لاندې لينک کې د پورته لومړي انځور (Pakistan armys...) ویډیو وګورئ:
https://www.facebook.com/Girishbdwj/videos/1971-pant-removing-ceremony-pakistan-defeat1971-war-pakistan-army-pant-removing-/611596067900554

[5] :https://www.dawn.com/news/751253



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

مخې (چې د ۱۹۷۲ز. کال د جولای په ۲مه نېټه، د هند ولسمشرې، **اینډرا ګاندي او ذوالفقار علي بوټو** ترمنځ لاسلیک شو) بېرته پاکستان ته پرېښودل شوې.»[6]

په دې جګړه کې د پاکستان ناکامي په داسې حال کې رامنځ ته شوه چې له پاکستان سره د امریکا، اردن، سعودي عربستان او ترکيې هېوادونو ځيني اړيني مرستې هم کيدلې او د ایران لهخوا پوځي او د تېلو مرستې هم رواني وې.
«امریکایانو په پټه هڅه وکړه چې د ایران، ترکيې او اردن حکومتونه وهڅوي، پاکستان ته پوځي تجهيزات ولېږي، د امریکا د کانګرس له مخالفت سره سره، امریکايي چاړواکو نوموړو هېوادونو ته ورانديز وکړ چې وروسته به د دغو هېوادونو د وسلو زېرمې بيا ډکې کړي.»
همدارنګه د جګړې پر مهال د پاکستان په ملاتړ **«د امریکا یوه جګړهییزه بېړۍ د ډسمبر په ۱۳مه نېټه د ملاکا سمندر ته د ننوتلو په حال کې وه.»**[7]
د چين هېواد هم مرسته کوله. دغو هېوادونو، نه يوازې پوځي او مالي مرستې وکړې بلکې له پاکستان يې ډیپلوماتيک ملاتړ هم کاوه.
بل پلو له هند سره يوازې پخواني شوروي اتحاد ځيني پوځي او ډيپلوماتيکي مرستې کولې.

له پاکستان سره د دومره ډېرو هېوادونو له مرستو سره سره، بيا هم پاکستاني پوځ ونه شول کولی  جګړه وګټي، ګټل خو پر ځای پرېږده، يوه پټمنه سوله يې هم ترلاسه نه کړه، بلکې له هندوانو سره يې هغه ذليل او شرموونکي تړون لاسليک کړ چې په خپله هندي جنرالانو (چې څه يې زړه غوښتل) ليکلي ؤ. چې پايله کې وياړلي او سرلوړي سوله، يا د جګړې تاريخي وياړ او برى د هندي ځواکونو په برخه شو.

د ۱۹۷۱ز. کال د ډسمبر ۱۶مه نېټه، د پاکستان پوځ لپاره يوه داسې تاريخي او شرموونکي ورځ ده چې د بنګلهدېش د ډاکي (ډاکه) په ښار کې د پاکستاني پوځ مشر، د پنجاب، پښتونتوکمه جنرال، امير عبدالله خان نيازي، د هند د پوځ له مشر، سيکمذهبه، ډګر جنرال جګجيت سينګ اروړا ته په داسې حال کې تسليمي شو چې د بنګال په پلازمېنه ډاکه کې يې ۲۶ زره ۴۰۰ وسلهوال پوځيان درلودل، په داسې حال کې چې پر ورانديې يې درې زره هندي پوځ، هغه هم ۳۰ کيلومتره په لېرې واټن کې ځایپرځای ؤ.[8] د دغې بېننګه تسليمي په هکله د بيبيسي د هندي برخې خبريال (ريحان فضل) له **تورن جنرال (J.F.R. Jacob) جيکب** (چې د بنګلهدېش د خپلواکۍ د جګړې پر مهال د سولې په خبرو کې د هند استازی ؤ) مرکه کړې چې د دغې مهمې مرکې اړين ټکي را اخلو:
هندی جنرال جيکب، د خپلو مشرانو لهخوا ډاکې ته استول شوی ؤ ترڅو جنرال نيازي ته د تسليمي وړانديز وکړي.
هغه وايي چې کله هلته ورسيد پاکستاني پوځ يو تن بريد جنرال زموږ هرکلي ته راالبرلی ؤ. هلته د بنګال د آزادیغوښتونکو او پاکستاني پوځيانو ترمنځ جګړه روانه وه. د ډزو غږونه اورېدل کيدل. کله چې موږ په موټر کې کښېناستو **مکتي باهني (د بنګلهدېش آزادیغوښتونکي)** وسلهوالو زموږ پر موټر ډزې وکړې، ځکه چې هغه د پاکستاني پوځ ګاډی ؤ، ما لاسونه پورته کړل او له موټره کوز شوم. دوی غوښتل پاکستاني پوځي افسر ووژني. له ډېرو ستونزو سره سره د پاکستاني پوځ مرکز ته ورسيدو. د پاکستاني پوځ مشر جنرال نيازي ته مې د تسليمي اړوند اسناد ولوستل هغه وويل:**«څوک وايي چې موږ تسليميږو؟ ته يوازې د اوربند لپاره دلته راغلی يې!»**
جنرال جيکب وايي: خبرې مو وکړې، هغه ته مې وويل چې ډېر ښه وړانديز دی، موږ له دې ښه وړانديز نه شو درته کولای، موږ ستاسې او ستاسې د کورنيو خونديتوب تضمينوو خو که دغه وړانديز نه منې بيا هېڅ تضمين نه شته.
هغه ځواب را نه کړ.
جيکب زياتوي چې جنرال نيازي ته مې وويل: **ته نيم ساعت وخت لرې، که خبره نه منې، بېرته د جګړې اعلان کوم او پر ډاکه باندې د بمبارۍ امر کوم.**

---

[6] :https://www.dawn.com/news/751253
[7]: https://www.bbc.com/pashto/world-42381000
[8]:https://www.bbc.com/pashto/world-42381000


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ



جنرال جېکب وايي چي زه بهر ووتم خو ځان سره مي فکر کاوه چي دا دي څه وکړل؟ زه هيڅ نه لرم خو له دوی سره په ډاکه کې ۲۶۴۰۰ پوځيان شتون لري. موږ يوازې درې زره سرتېري لرو او هغه هم له ډاکې ۳۰ کيلومتره لرې، که دوی انکار وکړي، څه به کوم؟

هغه وايي چي زه نيم ساعت وروسته دننه ورغلم، اسناد هماغسي پر ميز پراته وو، له هغه مي وپوښتل: منئ يې؟ هغه پته خوله ناست ؤ، درې ځله مي خپله پوښتنه تکرار کړه او کاغذونه مي له ميزه پورته کړل. ومي ويل، زه له دي باور سره ستنيږم چي تاسي راسره ومنله

له جنرال جېکب څخه پوښتنه وشوه چي که پاکستاني پوځ د ډاکې ښار د ساتلو ځواک درلود، بيا ولي تسليم شو؟ جېکب يې په ځواب کې د پاکستان د (حمود الرحمان کمېسيون[9])

**(ماتې خوړلی جنرال نيازی او جنرال جګجيت سېنګ د برې په حال کې)**

يادونه وکړه چي جنرال نيازی پوښتل شوی ؤ:«تا سره په ډاکه کې ۲۶۰۰ پوځيان وو او هنديانو ۳۰۰۰ پوځيان درلودل، تا کولای شول دوې اونۍ نوره جګړه وکړې، د ملګرو ملتونو د امنيت شورا غونډه روانه وه، **که مو يوه ورځ نوره جګړه کړې وای، ښايي هندي ځواکونه په شا شوي وای نو ولي مو داسي له شرمه ډکه ماتې ومنله او بې له کوم شرطه مو تسليمېدل ومنل؟ جنرال نيازي کمېسيون ته په ځواب کې ويلي وو: زه جنرال جېکب اړ ايستلی وم، هغه راته د کورنيو د وژلو ګواښ کړی ؤ.**[10]

د پورته مالوماتو پر بنسټ دي پايلي ته رسيږو چي جنرال نيازی، هندي جنرال په تشو غورو پرزو دار کړی او تسليم کړی دی، جنرال نيازي(لکه څرنګه چي د کميسيون له وينا



څرګنديږي) دوه اونۍ جګړه کولی شوه خو هغه يوه ورځ جګړه هم ونه کړه، که جنرال نيازي خبرې څندولي وای او د پوځي تکتيک لپاره يې وختوژنه کړې وای نو بيا به پاکستان له داسي شرموونکي حالت سره نه مخ کېده. خو دغه تش په نوم پښتون چي په پنجاب کې لوی شوی او د پنجابيانو دار او وېرې يې په وينې او روح کې ځای نيولی ؤ، په نيم ساعت کې تسليم شو. دا ډول په لنډ وخت کې تسليمدل د پاکستانيو پوځيانو يو ځانګړې ځانګړتيا ده (چي وروسته به پرې وغږيږو

**په بنګال کې تسليم شوي اسير پاکستاني پوځيان)**

د بنګال په جګړه کې د سر او مال پر زيانونو سربېره، د بنګاليانو په ناموسونو باندې د پاکستانيو پوځيانو لهخوا ډلهييزه تيري هم ترسره شوي چي په اړه يې لنډ مالومات وړاندې کوو:

څېړونکو او ادارو، په بنګلهديش کې د پاکستاني پوځيانو لهخوا د بنګاليانو د وژنو ښلابښلي شمېرې خپرې کړې دي، بنګلهديشي چارواکو ويلي چي **تر ۳ ميليونو پورې وګړي وژل شوي.** په داسي حال کې چي د پاکستان حکومت لهخوا ګومارل شوي د حمود الرحمان کميسيون، **دا شمېر ۲۶ زرو ملکي وژنو ته راټيټ کړی دی.**

---

[9]: حمود الرحمن د پاکستان د ستري محکمي قاضي القضات ؤ چي د کميسيون مشر او د ده په نوم ياديږي.
[10]:https://www.bbc.com/pashto/world-42381000


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

ځینو څېړونکو د پورته شمېرو په پرتله په منځنۍ کچه: **۵۰ تر ۱۰۰زرو پورې لیکلي دي.** په ۲۰۰۸ز. کال کې یوه څېړنه چې (د زیاد اوبرمایر، کریستوفر جی. ال. موري او امانویلا گاکیدو له خوا د British Medical Journal کې خپره شوې وه، **اټکل کوي چې تر ۲۶۹ زرو پورې ملکي وگړي په دې جگړه کې وژل شوي دي.** لیکوالانو لیکلي چې دا شمېر د هغو پخوانیو **اټکلونو (۵۸ زره) په پرتله ډېر لوړ دی چې د اوپسالا پوهنتون او د اوسلو د سولې د څېړنې انسټیټیوټ له خوا وړاندې شوي وو.**[11]



موږ په دقیقه توگه نه شو ویلي چې څومره بنگالیان د پاکستاني پوځ په لاس وژل شوي دي، د وژل شویو بنگالیانو د شمېر د مالومولو یو لاره دا ده چې د بنگالیانو دقیق شمېر د بنگله‌دېش د حکومت د شهیدانو او معلولینو له وزارت (اداري) څخه ترلاسه کېدلی شي چې د شهیدانو په اړونده ادارو کې معمولاً د وژل شوي کسانو له کورنیو سره د مرستو په موخه د هغوی نومونه ثبت شوي وي.

د پاکستانیو پوځیانو لەخوا پر بنگالي ښځو باندې، د ۲ او ۳سوه زرو تر منځ سیستماتیک جنسي تیري هم ویل شوي دي.[12] او د ۸ او ۱۰ میلیونو تر منځ  بنگالیان، هند ته په کډه کولو اړ شوي دي چې دا ټول دقیق شمېر نه، ریښتني شمېرې چې هر څه وي، وي به خو موږ دومره ویلی شو چې **پاکستاني پوځ په بنگال کې لوی شمېر تولوژنې، ډله‌ییز جنسي تیري ترسره کړي دي او په میلیونونو بنگالیانو د کډوالۍ سبب گرځېدلي دي.**

د جنرال نیازي له څېرې (اروایوهنې) داسې ښکاري چې نوموړی د یو ریښتني پښتون په څېر زړور او جدي پښتون نه ؤ، د دې لپاره چې ده خپل د نیازیو قوم په ټوله پښتانه شرمولی دي، زه دومره به ووایم:**(جنگل هم ښېر دارد هم شغال.)**

داسې ویل کېږي چې د پاکستان بندي لومړی وزیر عمران خان چې په قوم نیازی او تخلص یې هم نیاز ؤ، نه غواړي اوس نیازی وبلل شي، شوني ده چې نوموړي، د جنرال نیازي د ناوړه مخینې له امله ځان نیازی نه بولي.

---

[11] :https://www.ncbi.nlm.nih.gov/pmc/articles/PMC2440905

[12]: https://www.researchgate.net/publication/240524864_Rape_as_Genocide_Bangladesh_the_Former_Yugoslavia_and_Rwanda

*: جنرال یحیی خان د مارشال ایوب خان د خوښې جنرال ؤ، مارشال ویلي وو چې که «ماته د یحیی خان په شان د اخلاقي معیارونو د وړتیا پر بنسټ، شپږ تنه افسران راکړئ، تاسو ته به ووینئ چې پاکستان د اسلامي نړۍ د یوه ستر ملت په توگه څه کولی شي.»  خو د جنرال یحیی منتقدین د مارشال ایوب خان خلاف وایي چې هغه یو عیاش، بداخلاقه او شرابي جنرال ؤ چې «له ښځو او شرابڅښلو یې ډېری وخت تېراوه.» ویل کېږي چې یحیی له **اکلیم اختر** (چې په **جنرال راني** مشهوره وه) اړیکې درلودلې. د جنرال یحیی خان نوم له مشهورې سندرغاړې او اداکارې، **نورجهان** سره هم تړاؤ درلود. هغه همدارنگه له یوې بنگالي ښځې شمیم ک حسین سره (چې د **بلیک بیوټي** په نوم پېژندل کېده) هم اړیکه درلوده.

بلې خوا جنرال یحیی خان د انگرېز استعمار او پاکستان له جوړښت وروسته د خپلو دندو پر مهال ډېر مډالونه اخیستي وو چې مهم یې، د  HPk، HJ،  SPkاو NePl نښانونه وو چې وروسته د ذوالفقار علي بوټو له خوا له دغو رسمي ویاړونو بې‌برخې شو. د هغه واکمنې پر مهال د ډاکې د سقوط او د پاکستان وېش له مهمو ناکامیو گڼل کېږي خو دا هر څه یوازې د هغه خپله ناکامي نه بلل کېږي.

ولسمشر جنرال یحیی خان د خپلو پخوانیو نشو تماشو له کبله د مغزي سکتې (فلج) ښکار شو چې نیم بدن یې ور فلج کړ. جنرال یحیی تر ۱۹۷۷ز. کال پورې په کورني نظربندۍ کې وساتل شو، تر هغه چې د وریپښې ناروغۍ له امله د جنرال ضیاالحق له خوا (چې د مارشل لا قوماندان ؤ) آزاد کړای شو خو هغه گوښه ژوند غوره کړ او له عامه پیښو لرې پاتې کېده او خپلې خاطرې یې لیکلې چې هېڅکله خپرې نه شوې. یحیی خان، د ۱۹۸۰ز. کال د اگست په ۱۰مه نېټه د پنجاب په راولپنډۍ کې د مغزي سکتې له امله مړ شو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

نېټه:۱۴۰۵/۱/۱۶ل. ل

**نور بيا**

د ښاغلی محمد انور اخڼ نوري ليکنې په دی لينک کې ولولئ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ